مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۲۳/۰۴/۱۲

# جرمني کې د کډوالۍ سياست او د کډوالو ادغامولو ستونزې

## سريزه:



د بشريت تاريخ د پيليدو راهيسې د انسانانو مهاجرتونه شتون لري. د بشر تاريخي خوځښتونو شاليد ته په کتو سره کډوالي يا مهاجرتونه په منظم ډول يوه تکراري ښکارنده ده. د بشريت په تاريخ کې کډوالۍ هېڅکله د يوې استثنايي پديده په توګه نه ده راڅرګنده شوي. مېګريشن يا مهاجرتونه د بشري تاريخ د بنسټېزو عنصرونو ګڼل کيږي. په نولسمه پيړۍ کې شاخوا 52 ميليونو اروپايانو له اروپا څخه کډوال شول، يوازې 32 ميليونه اروپايان امريکا ته کډوال شول.
په 1850-1890 کالونو کې امريکا ته د جرمنيان تر ټولو ستره ډله کډواله شوه، په دې يو لکو شل زره کسېزه ګروپ کې ډير وړ ماهر مسلکي کسانو شتون درلود. جرمنيانو د متحده ايالاتو ځوان او مخ پر ودې اقتصاد سيسټم رغولو او جوړولو کې غوښنه برخه او مرسته کړي ده.
کډوالۍ په بنسټېز ډول د يوه هيواد د اقتصاد او کولتور بډايه کول په مانا دي. که چيرې کډوال د خونديتوب احساس وکړي او د پرمختګ فرصتونه په لاس کې ولري. مهاجرت د پرمختګ لپاره يو چانس دی. دا چانس څنګه کارول کيداې شي او د کډوالۍ سياست څنګه په دامدار پرمختګ کې مرسته کولې شي. دا د حکومتونو د کډوالۍ او ادغامولو سياستونو او پلانونو پورې اړه لري.
جرمني د نړيوالې جګړې ورسته په لسېزه کې د اقتصادي معجزې وده تجربه کړې. جرمني د همدې بېساري اقتصادي معجزې له امله د نړۍ يوه تر ټولو لوی پياوړي اقتصادي ځواک باندې بدل شوي. د جرمني اقتصادي معجزه جرمني ته د راغلو ميلمنو کارګرو پرته نا شونې وه.
په 1950 -1960 کلونو کې د جګړې ورسته د جرمني اقتصادي پرمختګ کې کډوالو کارګرو ستره ونډه اخيستلې ده.
مېګريشن يا مهاجرت يو ځانګړي ډول د مکاني خوځښت او انعطاف پذيري په مانا دی. د مهاجرت اصلي موخه د خپل مکان څخه د نړۍ بېلابېلو هيوادونو ته د تګ په مانا دی. د اقتصادي پلوه شتمن او بډايه هيوادونو ته د اقتصادي پلوه بې وزلو غريبو هيوادونو څخه د مهاجرت حرکتونه ډير وخت ليدل شوي دي.
اوسني نړيوال مهاجرتونه د اوسنيو جګړو، اقليمي بدلونونو او وچکاليو له امله يوې نوي عروجي کچې ته رسيدلي دي. وسمهال په نړۍ کې اټکل 280 ميليونه خلک په کډوالۍ کې ژوند سبا کوي. يوازې اټکل شپږ ميليونه افغانان د افغانستان ګاونډيو هيوادونو کې کډوال شوي دي. د امريکا او مکسيکو په پوله کې په تېر يو کال کې 2,35 ميليونه کډوال نيولي شوي دي. په 2021 کې شاخوا 1,3 ميليون کډوال په جرمني کې ثبت شوي دي، مخکې له دې چې د اوکرايين جګړې له امله تر ميليونونو اوکراينيان د کډوالي ريښتيني سفر پيل کړي.
په 2022 کال کې د ټولو ريکارډونو شمېر ماتې شوي. جرمني ته يودم دوه ميليونه کډوال راغلل. د اروپايي ټولنې 27 دولتونه د کډوالو سره د شطرنج دانو په څير چلند کوي. له يوې سېمې څخه بلې سېمې ته ليږدول کيږي. پرته له دې چې د کډوالو د برخليک په اړه، د منلو يا نه منلو لپاره په ګډو مقرراتو باندې يوې هوکړې ته سره ورسيږي. خو بيا دوی هم د نورو کډوالو په پرتله د اوکراييني کډوالو سره يو ډول امتيازي چلند کوي.

## جرمني کې د کډوالو تاريخ او د کډوالۍ سياست:

مهاجرت د بشريت د بنسټېزو عنصرونو په توګه د نننۍ جرمني په دولتي حاکميت کې ورته ځانګړی حېثيت او د مېشت کيدلو ځای په پام کې نيولي شوي دی. په دې توګه د کډوالۍ تاريخ د جرمني تاريخ په پرتله ډير اوږد دی. د جرمني تاريخ تل د کډوالۍ تاريخ و. جرمني يو داسي هيواد دی، چې د مهاجرينو د وتلو او ننوتلو ډېرې تجربې لري


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

او د مهاجرینو لپاره په یوه مقناطیسي هیواد بدل شوي دی. مېګریشن یا مهاجرت د جرمني تاریخ یوه اړینه برخه ده. له همدې امله د جرمني اساسي قانون په شپاړسم ارټیکل کې د کډوال یا پناه غوښتونکی حق د یو بنسټیز حق په توګه منل شوي دی. اساسي قانون د کډوالو د انساني کرامت ساتنه کوي، همدارنګه د کډوال د ژوند، جسمي فزیکي بشپړتیا، ازادئ او نورو بنسټیزو بشري حقونو ساتنه کوي. په اساسي قانون کې دا یوازیني بنسټیز حق یا ارټیکل دی، چې بهرنیان تري برخمن دي. جرمني شاوخوا 84,3 میلیون وګړي لري. شاوخوا 22,3 میلیون وګړي یې د کډوالي شالید لري. د دې شمېرو په بنسټ هر څلورم کس چې د جرمني تابعت لري او په خپله د کډوالی تاریخ لري. تر ټولو ستره ډله خلک د ترکیې څخه ورته راغلي. دوی په جرمني کې د جرمني نفوس 3,4 جوړوي. په دویم قطار کې پولنیډیان 2,2 میلیون نفوس کې راځي. جرمني کې د مهاجرت شالید لرونکو خلکو دریمه برخه د اروپایي ټولني په یوه غړي هیواد کې خپلي ریښي لري. اټکل نور 30 سلنه خلک له یوه اروپایي هیواد څخه راغلي دي، کوم چې د اروپایي ټولني غړیتوب نه لري. په جرمني کې د نړۍ له هر هیواد څخه خلک اوسیږي.
د جرمني فدرالي حکومت ولې په دوامداره توګه کډوالو ته اړتیا لري. ځکه د جرمني نفوس مخ په زاړښت یا زاړیدو دی. د هر جرمن په کورنی کې د ماشومانو شمېر مخ په کمیدو دی. دا د دې لامل ګرځي، چې د جرمنیانو ډیموګرافیک پرمختګ د دوی د ځوان نسل په زیان پرېځوي. د نسلونو ترمنځ تړون ته په کتو او په دې توګه د تقاعدي وګړو معاشاتو په کمیدو سره د یوه سوکاله ژوند معیارونو ساتنه ورځ تربلې بې ثباته کیږي.
د جرمني نفوس په اړه یوه څېړنه ښیي: په 2025 کال کې یو پر څلورمه برخه یعني 59 میلیونو ته د جرمني نفوس راټیټ شي، عمرونه به زیات شي او ډیر به زاړه شي.
د 1951 کال د کډوالو د کنوانسیون او د نړیوال قوانینو له مخې پناه غوښتونکي کډوال هغه خلک دي، چې د خپل توکم، مذهب، ملیت، سیاسي نظر، یا د یوې ځانګړي ټولنیزې ډلې د غړیتوب له امله د ځورونې له سختي ویرې له کبله خپل هیواد پرېږدي، تر څو له خپل هیواد څخه لیرې د خوندیتوب ځای په لټه کې شي.
له 2007 کال راهیسې جرمني کې د یو کال په دننه کې د کډوالو شمېر دومره زیات شوي نه وه، لکه په 2022 کال کې له کله نه چې د اوکراین جګړه پیل شوې ده. یوازې 1,01 میلیون اوکراینیانو په جرمني کې د خونیتوب غوښتنلیکونه ورکړي. وسمهال جرمني ته د کډوالو عمده بهیر په سوریه کې د وحشیانه جګړې له امله رامنځته شوي دی. همدارنګه د سوریې په ګاونډیو هیوادونو لکه ترکیه او عراق کې د ناڅرګند سیاسي وضعیت له امله پیدا شوي دی. د دې سیاسي کړکیچ کډوال یوازې جرمني ته نه، بلکې ټولې اروپایي ټولني جریان لري.

## د جرمنیانو نفوس د ډیموګرافیک بدلون له اړخه:

د زاړو نفوس تناسب په ټول جرمني کې مخ په ډیریدو دی. همداوس د ماشومانو او ځوانانو په تناسب لوړ دی. په 2022 کال کې د 18 کلونو او 65 کلونو ترمنځ عمر ګروپ خلک د جرمني 61,5 په سلو کې د نفوس اکثریت جوړوي. په 1960 لسیزه کې د احصائیو له مخې د جرمني په فدرالي جمهوریت کې هرې جرمني ښځې لږ تر لږه دوه ماشومان زیږول. په 1990 کلونو کې دا رقم 1,3 ماشومانو ته راټیټ شوي دی. په 2021 کال کې په اوسط ډول د هرې ښځې 1,58 ماشومان ول، چې له هغمهاله لږ لوړ شوي دی. له دې سره جرمني د اروپایي ټولني هیوادونو په پرتله د جدول په منځ کې قرار لري. په 2020 کال کې ډیرو سویلي او مرکزي اروپایي هیوادونو د زیږون کچه ټیټه شوې ده. په فرانسه کې (1,83)، رومانیا کې (1,80) ډنمارک او سویډن هر یوه کې (1,67) د زیږون کچې دي. له بلې خوا د اروپایي هیوادونو په پرتله د نړۍ هرې ښځې ډیر ماشومان زیږولي دي.
په 2021 کال کې جرمني کې د ټول نفوس یوازې (13,8) سلنه د 15 کلونو څخه لږ عمر درلود. دا د ایټالیا، مالټا، او پرتګال ورسته په ټوله اروپایي ټولنه کې تر ټولو ټیټه کچه ښیي. په ورته وخت کې د 64 کالو څخه د پورته خلکو تناسب (22,0) سلنه وه، یوازې په پرتګال، فنلینډ، یونان او ایټالیا کې د (22,4) څخه تر (23,5) سلنې پورې یو څه لوړ و. د جرمني فدرالي احصائیې اداري د وړاندوینو له مخې، په 2025 کال د زېږون په کچه کې، د ژوند کولو اټکلونو ته په کتو سره او همدارنګه د راروان کډوالۍ بهیر ته په کتو سره د اعتدالي پرمختګ سره په جرمني کې ټول نفوس ته په کتو سره د زاړو وګړو شمېر په تناسبي ډول به نږدې 30 سلنه نورهم لوړ شي. د کارګرو خلکو عمرونه 25 څخه تر 64 کلونو د ټول نفوس په تناسب شاخوا 50 سلنې ته راټیټ شي. په بله وینا د جرمني ټول نفوس نیمایي وګړي په 2050 کال کې د ټولنیزه امنیت بیمه یا ونډې نه شي پرې کولي. خو د بهر څخه د کډوالو راتګ کولې شي، دا ډیموګرافیک بدلون لږ را کم کړي او د جرمن ټولني په بیا رغونه او د ټولني ځوانولو کې مرسته وکړي. لذه دا چې کډوالی د جرمني ټولنیز سیستم ارامولو او باثباته کولو سره مهمه مرسته کوي.

## جرمني ته د اروپایي ټولني او غیر اروپایي وګړو راتګ:

د کډوالو په برخه کې باید دوو ډلو ترمنځ توپیر وشي، د اروپایي ټولني هیوادونو اتباع او د نړۍ نورو دولتونو وګړي یا د دریم هیواد اتباعو ترمنځ توپیر وشي. د اروپایي ټولني د ازاد خوځښت قانون له مخې د اروپایي ټولني 27 غړو هیوادونو د اروپا هر وګړی دا حق لري، چې په اروپایي ټولنه کې هر چېرې حرکت وکړي او دایمي استوګنه غوره کړي او مېشت شي. د اروپایي ټولني د هیوادونو ترمنځ سرحدونه د یو څو هیوادونو په استثنا نور عموماً د سرحدي پولیسو کنټرول په کې شتون نه لري. دا تړون شېنګن په نامه یادېږي. جرمني ته د اروپایي ټولني اتباع د ننوتلو لپاره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

وېزې او پاسپورټ ته اړتیا نه لري. که په جرمني کې دوی د دريو مياشتو اوسيدو څخه زيات پاتې شي، دوی بايد دا ثابته کړي، چې په يوه دنده ګمارل شوي دي يا د کار په لټه کې دي او يا خپله د ژوند کولو لپاره کافي وسايل او پيسې لري. د بېلګې په ډول د اروپايي ټولنې څخه په منظم ډول د تقاعد معاش ترلاسه کوي.
په 2021 د اروپايي ټولنې اتباعو په جرمني کې د ټولو نوی بهرني مهاجرينو نيمايي برخه جوړوي. د اروپايي ټولنې وګړو پرته له څو هيوادونو، چې د جرمني سره تړون لري، نور ټول وګړي د ننوتلو لپاره معتبرې وېزې ته اړتيا لري.

## د جرمني کډوالۍ هيواد ته د ننوتونکو او بيرته وتونکو کډوالو شمېر:

د جرمني فدرالي جمهوريت د خپل بنسټ راهيسې په نړۍ کې يو له خورا مهم د مهاجرتونو هيواد دی. جرمني يو متنوع هر اړخيزه کولتوري د کډوالۍ هيواد دی. دلته بايد تر تولو ښه د ادغامولو سياست پلي او پلان شي.
خلک د بېلا بېلو لاملونو له امله جرمني ته راځي. د اروپايي ټولنې هيوادونو څخه خلک د کارکولو او د کار موندلو لپاره جرمني ته راځي.
د جرمني فدرالي احصائيې دفتر د احصائې له مخې یوازې په 2021 کال کې جرمني ته 1,32 ميليونه خلک ننوتلي دي. د تېر کال په پرتله د مهاجرت شمېر يو څه ډېر شوي دی. د کورونا وبا څخه مخې کچې په 2019 کال کې 1,56 ميليونه او په 2020 کال کې 1,19 ميليونو کډوالو ته نه دي رسيدلي. په همدې موده کې نږدې يو ميليون کسان له جرمني څخه بيرته وتلي دي. که سړی د ننوتونکو او بيرته وتونکو خلکو شمير وګني او پرتله کړي، په جرمني کې شاوخوا 330,000 کسان اضافي پاتې شوي دي. دا په دې مانا د جرمني څخه د وتونکو خلکو په پرتليزه لږ ډير خلک پاتې کيږي.
په 2021 کال د اروپايي ټولنې څخه بهر د کډوالو يوه لويه ډله جرمني ته د پنا غوښتنو لپاره راغله. په لومړۍ ځل يو دم 122,000 کډوال د پناه غوښتنې غوښتنليکونه سره پرته له ماشومانو، کوم چې په جرمني کې نه وو زيږيدلي. په دې کال کې په ټوليزه توګه ټوټال 148,233 غوښتنليکونه ورکړل شول. په دې شمير کې په ځانګړي توګه د سوريې، عراق او افغان وګړي شامل ول. شاوخوا ځلويښت سلنه غوښتنليکونو ته مثبت ځواب ورکړل شو. په دې مانا چې دوی کولي شي د يوې محدودې مودې لپاره په جرمني کې د پاتې کيدو اجازه لري. دويمه ستره ډله د غير اروپايي ټولنې څخه جرمني ته راځي، د کورنيو بيا يو ځای کيدلو پروګرام له مخې کوم چې خپلوان يې په جرمني کې ژوند کوي. يوازې نږدې خپلوان، مېړه او ماشومان راځي، په 2021 کال کې شاخوا 82,000 کسان راغلي دي.

## دريمه ستره ډله د تحصيلي بورسونو يا د نورو بېلا بېلو زده کړو لپاره خلک جرمني ته راځي:

دا کومه نوی خبره نه ده، د 1957 کال راهيسې د ځينو استثنايي کلونو پرته په احصائيو کې څرګنديږي. نوی کډوال د کومو هيوادونو څخه جرمني ته راځي د مهاجرت د احصائيو له مخې په 2021 کال کې د رومانيا څخه تر ټول ډېر 200,000 رومانيايان راغلي دي. په دويمه درجه 48,411 سورېايان دي، په دريمه درجه کې 33,622 افغانان دي، همداسي 23,120 هنديان،20,327 بلغاريان، 17,164 کوسوان، 16,523 توركان، 14,353 عراقيان، 10,763 البانيايان او 10,717 کسانو د شمالي مرخودونيا هيواد څخه راغلي کډوال دي.

## جرمني کې د ماهرو مسلکي کارګرو له کمښت:

جرمني د ماهرو مسلکي کارګرو له کمښت سره مخامخ دی. جرمني سمدستي د کار مارکيټ کې کولي شي روزل شوي ماهر متخصصين کارګر په کار وګماري. په داسي حال کې چې په 2023 کال د بيکارۍ اوسط کچه 5,7 سلنه ده. د مسلکې ماهرو کارګرو کمښت د جرمني سوسيال ټولنير شتمن سوکاله ژوند له ګواښ سره مخامخ کوي، له همدې امله جرمن سياستوال د يوه نوی کډوالۍ سياست رامنځته کولو په لټه کې دي، څو جرمني د کډوالو منلو يو عصري هيواد وګرځي، جرمني د خپل ټولنيز امنيتي سيستمونو د ساتلو لپاره کډوال نه راغواړي، بلکې جرمني د خپل کاري مارکيټ او د خپل پياوړي اقتصاد ساتلو لپاره کډوال راغواړي. جرمني کې د ماهرو کارګرانو بيساري کمښت رامنځته شوي دی. د دې ستونزې د حل لپاره د جرمني فدرالي حکومت د کډوالۍ په قوانيونو د بدلون خبرې کوي. موخه يې يوازې دا نه ده، چې له بهره ماهر کارګران راجذب کړي، بلکې په دې هيواد کې کارکولو ته د هغوي هڅول هم شامل دي.
جرمني په اصل کې د کډوالو لپاره يو ډير په زړه پورې هيواد دی. جرمني په نړۍ کې د کډوالو لپاره دويم محبوب او مشهور هيواد دی. تر دې دمه د کډوالو تر ټولو ستره ډله د اروپا سويلي او ختيځو هيوادونو څخه ورته راغلي ده، لکه پولينډ، رومانيا، ايټاليا، بلغاريا، هنګري، هسپانيا او پروتګال هيوادونو. لامل يې په دغو هيوادونو کې اقتصادي وضعيت ډير خراب دی او تر پنځوسو سلنې پورې بې روزګاري په کې شتون لري. د اروپايي ټولنې وګړو راتګ موقتې دايمې نه دی. جرمني ته د دايمې استوګنې لپاره مسلکې ماهر خلک د اروپايي ټولنې څخه بهر د نورو جګړه ځپلو هيوادونو څخه د کډوالو په توګه ورته راځي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

جرمني کې يوازينۍ ګوند د زرغون ګوند دی، چې دوی د بشري حقونو پر بنسټ د کډوالو د ادغامولو يو ډير ښه نوی سياست پلوي کوي. دوی په لومړي ګام کې د جرمني اقتصاد لپاره د ماهرو کارګرو راوستلو او د کډوالو پلوي نه کوي، بلکې دوی د خپل بشري مسووليت له مخې د کډوالو د حقونو دفاع کوي. دغه ګوند په ولسي جرګه يا بونډيسټګ کې د کډوالۍ او د ادغام ټګلارې پاليسي څخه دفاع کوي، چې په هغه کې يو فرد هم ورته ارزښت لري او شمېرل کيږي. د دې ګوند د پاليسي مرکزي موخه د اروپا پر کچ يووالۍ او د اروپايي ټولنې هيوادونو پيوستون دې او دې مهمې مسئلې ته پام راړول دي.

## د کډوالو پوهنېزه وړتياوې او کار کې استخدامول:

د کارموندلو مارکيټ او د حرفوي څېړنو انيسټيټوټ د څېړنې له مخې په 2018 کال کې د 25 څخه تر 64 کلونو عمرونو نوی کډوال شاخوا 34 سلنه د لوړو زده کړو او اکاډمېکو موسسو د فراغت لاسوندونو سره جرمني ته راغلي. په جرمني کې په اوسط ډول 23 سلنه جرمنيان د لوړو زده کړو د فراعت سندونه لري، کوم چې هيڅ ډول د مهاجرتونو شاليد نه لري، يعنی اصيل جرمنيان دي. جرمني د خپل کاري وړتياو او مسلکي خلکو ظرفيت ختمولو سربيره د جرمني ډيموګرافيک بدلون له امله ډير کارګرو ته اړتيا لري. ترڅو د خپلو ماهرو کارګرو اړتيا ور پوره کړي. همداوس ځينې کاري سکتورونه او شخصي شرکتونه د پامور خنډونو سره مخ دي او د مارهرو کارګرو ږ کمښت راپورونه ورکوي، ان دغه راغلي بهرني ماهرو کارګرو استخدامول هم نه شي کولي دغه کمښت يا تشه ډکه کړي. د تير کال راهيسې د کار مارکيټ ته د کډوالو نافذو قوانين کې د پامور اسانتاوې رامنځ ته شوې او تقريباً ماهر کارګر د کارموندلو ازاد مارکيت ته ازاد پريښودل شول.

## جرمني کې د کډوالو ادغامولو سياست موخې:

د جرمني مهاجرينو او ادغامولو کميشنري د کډوالو ادغامولو پاليسې د لا پرختيا، د بهرنيانو او د جرمنيانو ترمنځ هماهنګي او همغږۍ د ودې په موخه د جرمني فدرالي حکومت ملاتړ کوي. د مهاجرينو ادعامولو ته وده ورکوي. د مناسبو شرايطو د رامنځته کولو لپاره، چې بهرنيان او جرمنيان وکولي شي په ګډه ژوند سره وکړي. په جرمني کې د ادغامولو پاليسي يوه کليدي موضوع ده او په ټولېزه توګه د ټولنې لپاره د يوې دندې په توګه ليدل کيږي. د ادغامولو موخه دا ده، چې ټول هغه خلک چې په دايمي او قانوني توګه په جرمني کې ژوند کوي، په ټولنه کې مدغم کړي. مدغمول په تولو باندې ښه اغيز کوي. د کډوالو لپاره د زده کړې او کار ته د لاسرسي اسانتيا برابرول. د جرمني فدرالي حکومت پر ملي، اروپايې او نړيوال کچ په ډيرو اقداماتو لاس پورې کړي دی، د پناه غوښتنې بنسټيز حق تر پوښتنې لاندې راوستلو پرته د خپلې ټولنې مخافظت په لټه کې د نورو خلکو د مهاجرتونو مخه يې هم نيولې ده.

## جرمني کې د کډوالو جنايي جرمونه:

د مجرمو کډوالو په حالت کې بايد د دوی د ژوند ټولنيز شرايط هم په پام کې ونيول شي. ښوونه او روزنه، ټولنير ادغاموال او د دوی په کورنيو هيوادونو کې د تعليم سطحه او د جګړو دردناکې تجربې مهم رول لوبوي. د جرمونو مرتکبين ټولنيز وضعيت پرېکړه کونکی رول لوبوي، چې ځومره ټولنيز وضعيت يې ډېر ناسم او نارامه وي، هغومره د جرمي عمل په ترسره کولو کې لوړ ځای لري. د جرمني جرمونو په احصائيه کې د کلونو راهيسې د جنايي جرمونو ګراف مخ پر ښکته روان و. په 2022 کال کې د جرمونو شمېر په تېرو پنځوسو کلونو کې د لومړي ځل لپاره بيا لوړ شوي. د پوليسو د جرمونو د شمېرو له مخې تېرل کال په ټول هيواد کې 5,6 ميليونو ډېر جنايي جرمونه ثبت شوي دي. د تېر کال په پرتله 11,5 سلنه لوړ شوي. د پوليسو د جرمي احصائيو له مخې د غلا جرمونو، د پلورنځيو سرقت، اقتصادي جرمونو، فيزيکي شخړې، جنګونه، د بدن ټپونه او جنسي تيريو کې په ځانګړي ډول زياتوالي راغلي دی. خو په دې ورستيو پينځو کلونو کې د لومړی ځل لپاره د جرمونو ګراف بيا لوړيږي. د دغو جنايي جرمونو څخه شاوخوا يوه په دريمه برخه د بهرنيانو لخوا ترسره شوي دي. دلته بايد د بهرنيانو، سيلانيانو او کډوالو ترمنځ توپير وشي. د کډوالو په منځ کې ډيرې ځوانان شتون لري، ځوانان په هره ټولنه او هر وخت د جنايي جرمونو لوړه کچه لري. دا شمېرې احصائيې تحريفوي. د خلکو په دې ګروپ کې د ځوانانو تناسب د جرمني ټول نفوس په پرتله څلور چنده لوړ دی. دغه ګروپ کډوال د ټولنيزو ستونزو سره لاس او ګريوان دی. پنا غوښتونکو ته په پيل کې د کار اجازه نه ورکول کيږي، دوی د پيسو له کمښت سره مخامخ وي. د ژبو کورسونو ته لاسرسی نه لري. بې مضموني، ستړيا، رواني ناروغي، په مخدره توکو روږديتوب ستونزې رامنځته کوي، د تېښتې لامونه او د تېښتې د لارې عواملو نه ملنه او په مسلسل ډول له پامه غورځول کيدل، د کمترۍ احساس پيچلي کمپلکس، کولتوري شوک، د نورو رواني نارغيو لامل ګرځي او په ټولنه کې تشدد او خونړې جرمونو ته لاره هواروي.
هر هغه کډوال چې د کار ارزښت ته، د ژبې زده کړې ته، د ټولنې ارزښتونو او نورمونو ته درنښت کړی وي. د قانون د رعايت له لارې په پينځو کلونو کې د جرمني ټولنې برخه ګرځيدلي شي، هغه د پيژندنې او ملاتړ مستحق دی. خو که څوک په جرمنی کې د پينځه کلونو ورسته په اقتصادي او ټولنېز برخه کې ګډون له لاسه ورکړي وي، ممکن هغه په ناسمه لار روان وي. دا يوه منلي خبره ده، چې کډوال جرمني ته په راتګ سره نه يوازې د کار مارکيټ ته چانسونه له ځانه سره راوړي، بلکې خپلې ناخوالې او ټولنيزې ستونزې هم راوړي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

## د کډوالو بهیر او مذهبي تړاو د جرمني عیسوي مذهبي باندې اغېز:

جرمني ته د کډوالو بهیر د جرمنیانو د مذهبي ټولنې بڼې او انفرادي عقیدې باندې اغېز کړي دی. په 1987 کال کې اتیا سلنه د جرمني فدرالي جمهوریت وګړي د دوو لویو عیسوي کلیساګانو پورې تړاو درلود. په 2021 کال کې یوازې نیمایي 21,6 میلیونه کاتولیکان او 19,7 میلیونه پروټیستانتان وو. په 2021 کال کې له دریمې برخې لږ ډیر جرمنیان د هیڅ کوم مذهب سره تړاو نه لري. د اټکلونو له مخې جرمني کې 6,5 میلیونه نفوس مسلمانان دي او شاوخوا څلور سلنه یې د نورو مذهبونو سره تړاو لري، لکه یهودیان، هندوان، یزیدیان او د نورې عقیدې خلک شامل دي. په جرمني کې د کاتولیکانو او پروټستنټانو ورسته مسلمانان ستره مذهبي ټولنه لري. د مهاجرتونو یا کډوالو فدرالي دفتر د یوې څېړنې له مخې په 2019 کال کې د 5,6 – 5,3 میلیونه مسلمان کډوال په جرمني کې اوسیدل، کوم چې د جرمني 6,4-6,7 سلنې پورې نفوس سره برابر دي اوس ورو ورو ورځ تر بلې جرمنیان د اسلام دین ته رااوړي.

## ټولېزه پایله:

ادغامول یوه اوږه پیچلې پروسه ده، چې یوازې ګام په ګام او پړاو په پړاو بشپړیدلې شي. ادغام دوه اړخیزو هڅو ته اړتیا لري او په قانوني، اقتصادي، ټولنیز کولتوري او مدني پالیسیو اړخونو کې د مهاجرینو او کوربه هیواد یا کوربه ټولنې تطابق ته اړتیا لري. هر هغه څوک چې جرمني ته د هیلې ښنونکي هیواد او د غونديتوب ځمکې په توګه ورته ګوري، هغه معمولاً غواړي په ټولنه کې زر تر زره ادغام یا یو ځای شي.
د 2015 کال راهیسې ځښت ډیر کډوال جرمني ته راغلي دي. جرمنیان د کډوالو په اړه په ډیره لیوالتیا سره بحثونه کوي. دوی په دې اړه ډیر تاوده او تر ډیره بریده احساساتي غبرګونونه ښيي. د جرمن ټولنه د دومره ډیرو کډوالو د ادغامولو په اړه څه ډول غبرګون ښيي. اصیلي پوښتنه دا ده، چې جرمنیان په ریښتیا سره د کډوالو په اړه څه فکر لري. ایا دوی په ریښتیا سره په دوو قطبونو کې سره ویشلي شوي دي. په دې اړه یوه تازه څېړنه په روښانه توګه ښيي، چې د جرمن ټولنه په هیڅ صورت کې د کډوالو په اړه په دوو نه پخلا کیدونکی قطبونو یا په سر سختو ملاتړو او یا هم په مخالفانو کې سره ویشلي شوي نه ده. جرمنیان اساساً د کډوالي په اړه مثبت نظر لري. له نیمایې څخه ډیر جرمنیان حتی کډوالۍ ته د یو ښه فرصت په توګه ګوري. یوازې یو اقلیت په کلکه او ښکاره توګه کډوال ردوي. په ځانګړي توګه د ماهرو کډوالو کارګرانو په اړه 63 سلنه جرمنیان مثبت نظر لري. دوی دا هم وایي، چې موخه یې د ماهرو متخصصو کارګرانو د کمبود په وړاندې مبارزه ده.
په هرصورت له نیمایي ډېر جرمنیان په دې باور دي، چې کډوالي یا مهاجرتونه نه یوازې زموږ هیواد ته له اقتصادي پلوه، بلکې په ټولنیز او کولتوري برخه کې شتمنوي. له دې ټولو ټکو څخه دا پایله ترلاسه کولي شو، چې جرمني د مهاجرت هیواد دی او دا د یو واقعیت په توګه ومنل شوي دی.
هغه څوک چې د جرمني په ټولنه کې ښه مدغم شوي وي، باید هغه ته د پاتې کیدو اجازه ورکړل شي.
د جرمني لوی اکثریت فکر کوي، چې دا سمه او ښه کار دی، هغه کډوال چې د جګړو او ځورونو او تعقیبولو څخه راتښتیدلي دي. دلته دې پاتې شي. په سلو کې اوویا په دې نظر دي، چې په راتلونکی کې جرمني باید د وسمهال په څیر ډیر کډوال ومني. له بلې خوا، اکثریت جرمنیان د هغو خلکو لپاره لږ زغم ښيي، کوم چې د اقتصادي دلایلو او بې وزلې له امله تښتیدلي وي. جرمنیان تقریباً ټول په یوه خبره متفق دي، هر هغه څوک چې جرمني ته کډوال او راتښتیدلي وي، دلته مدغم شوي وي او کار کوي، باید د پاتې کیدو اجازه ورکړل شي. حتی که هغه د جرمني څخه د اقامت اجازې نه درلودلو له امله د جرمني پریښودلو ته اړ هم وي.
په اصل کې جرمنیان کډوالۍ ته د یو فرصت یا چانس په سترګه ګوري. خو ځینې په دې اړه قوي شکونه لري، چې ایا د دوی سیاستوال د دې سترو ننګونو جوګه دي که نه دي. هغه څه چې موږ ورته اړتیا لرو د مدني ټولنې او د کډوالو سره د توپیري چلند یا د پردې څخه د ویرې په وړاندې ګډه همکاري او مبارزه ده. رسنۍ باید هم خپل مهم رول سم ولوبوي، رسنې باید پام وکړي، چې د یوه انفرادي کډوالو لخوا ترسره شوي جنایي جرم کې مبالغه ونه کړي، بلکې په ټولنه کې د کډوالو په وندې اخیستلو باندې ټینګار وکړي. د دې لپاره چې د مهاجرینو ترمنځ د جرم په څیر افسانې او ګونګوسې په خلکو کې رد او غلطې ثابتې شي. جرمني ته تر ټول ستر ګواښ د ښي اړخ افراطیت یا نوي نازیانو له لوري دی، چې د جرمن ټولنه سره وشي.
بلکول د کډوالو او مهاجرینو د راتګ په تړاو د جرمنیانو اندېښنې شتون لري. دا هغه کسان نه دي، چې د رسنیو او ټلوېزیونو په لومړي قطار کې ناست او پر سیاست بحثونه کوي. د سروې شویو کسانو لویه ویره د ادغامولو لګښتونه او د کار موندلو په سر د سیالې څخه ویره درلودله. همدارنګه جنایي جرمونه، ترهګري او د اسلام دین له نفوس ویره په دریم او څلورم ځای کې قرار لري. تر ټول ستره وېره د ښي اړخې افراطیت او توکمپالنې د زیاتیدو وېره ښودلې شوي ده. په دوم ځای کې په ټولنه کې د زیاتیدونکې ویش په اړه وېره او اندېښنه شتون لري.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ